# افغانستان آزاد ـ آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مباد — بدین بوم و بر زنده یک تن مباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم — از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com — afgazad@gmail.com

| | |
|---|---|
| ادبی ـ فرهنگی | Literary-Cultural |



انجنیر داؤد اڅک

۰۹ فبروری ۲۰۲۵

## واورینه شپه او یوه ښکلې



نیمه شپه وه واوره وروَر ورو اورېده — سپین لباس کې هر څه ښکلي ځلېده

یوه ښکلې ځنګونو پورې ئې واوره — وه روانه وارخطا معلومېده

دا په پټه را روانه سوه زما خوا ته — خو په تور شال کې له ورایه ښکارېده

په تلوار مې د کوټې ور ورته خلاص کړ — دا چې راغله په غلا سخته لړزېده

ما ول غېږ کې به ئې ټینګه کړمه ګرمه — له یخ نه وه زما له غیږي ډارېده

پر تندي ئې مرغلري ځلېدلې — سترګې کښته سره شونډان ئې رپېده

ما په ډېر احتیاط زاریو کړله غېږ ته — له مړو سترګو ئې اورونه غورځېده

په ارامه مي رپانده شونډي بښکل کړې	تکانونه ئې د زړه ما اورېده

زما په غيږ کې ئې خاموشه ژړا پيل کړه	په ګريوان کې ئې غميان را توئېده

ما ول ائې د جنت حوري ولې ژاړې	ويل بده را روانه پر کاله

ما ول ژر سه راته ووايه څه پېښه	ول نجات غواړم، په لپو ژړېده

ما ول ولې او د چا څه نجات غواړې	تا کوم جرم او ګناه کړې که څه؟

ول زه پوهه يمه پاس مکتب کې اوسم	څو کسان چړې په لاس را واوښته

ويل چيري ده کافره سر ئې پرې کړی	تا ته راغلم په سختيو تر منزله

مينه راکړی هوابازه جفا مه کړی	خوشبختي ده زما د غيږي زيږنده

ما ول زه خو د عمرو پر تا مين يم	دا نړی خو تا ښايستې خلق کړېده

ډبرين زړونه به نرم سي زما ښکلي	بيا به کور کلي ته ځې په خندېده

٨ ـ ٢ ـ ٢٠٢٥